مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۲/۰۲/۰۱

# د نړیوالو قوانینو له مخې د طالبانو حکومت په رسمیت نه پیژندنه حقوقي ستونزې

سرېزه:



د دوسوو کلونو راهیسي له کله نه چې ملي دولتونه رامنځته شوي دي، د حکومتونو په رسمیت پیژندني او په رسمیت نه پیژندني د څرنګوالي په اړه د نړیوالو قوانینو حقوق پوهانو ترمنځ تاوده بحثونو روان دي. پر پوهنتوني کچ د حکومتونو رسمیت پیژندلو په اړه د حقوقو په پوهنځیو کې ډیر لږ بحثونه ترسره کیږي، که څه هم دا موضوع د خورا لوړ اهمیت څخه برخمنه ده. خو د دي پر ځای ډیر بحثونه د دولت د رسمیت پیژندني په اړه د یو حقوقي اورګان توګه ترسره کیږي. د نړۍ د دولتونو په تاریخ کې ډیرو داسي موارد شته، چې د حکومت بدلون سره د نوی دولتي فورم غوښتنه هم رامنځته کیږي. وسمهال لویدیځ هیوادونه هڅه کوي، په افغانستان کې د طالبانو نوی رژیم د رسمیت نه پیژندلو له لارې دې ته اړ باسي، څو نړیوال ټولمنلي بشري حقونو او قوانینو په افغانستان کې په رسمیت وپیژني، درناوی او ساتنه وکړي.

دغه نړیوالې غوښتنې په خپله په بین المللي تعاملاتو او د بین الدول قوانینو کې یا د نړیوالو ډیپلوماتیکو اړیکو په تاریخ کې یو نوی باب پرانیستلي دی. ملګري ملتونه د میانمار پوځي جنرالانو حکومت او د طالبانو حکومت استازي یو ځلي بیا په رسمیت نه پیژني. په دې نوی نړیوال حقوقي نا روښانه څېرکی کې د افغانستان او میانمار حکومتونو په رسمیت پیژندلو مسئلې شاملي دي. د میانمار حکومت قضیه د افغانستان له قضیې سره لږ توپیر لري. د میانمار قضیه په دې لیکنه کې په پرتلیزه توګه نه څیړل کیږي.

د طالبانو حکومت په دایمي توګه د رسمیت نه پیژندلو په صورت کې دا پوښتنه راولاړیږي، چې ایا د دغې سیاسي پرېکړې څخه ملاتړ کول زموږ د ځګره ځپلي هیواد د ملي ګټو او د ټولو نه اټکل کیدونکو سیاسي پایلو ته په کتو سره د سیاسي لحاظه په ریښتیني مانا سره د تاریخي افغانستان نړیوال پرستیژ لپاره یوه هوښیاره او سمه پرېکړه به وي. که څوک په پیل کې د افغان مظلوم او جګړه ځپلي ولس په اړه ژور فکر وکړي، چې افغانان نور په دې کنګل شوي دوزخ افغانستان کې له جګړې ستړي شوي دي. هغه ته به هم زما په شان یوه مناسب ځواب ویل ډیر ګران پریوځي.

ما لیکوال د جرمني کولن او بریمن ښارونو په پوهنتونونو کې د حقوقو په پوهنځیو کې حقوقي لوړې زده ترسره کړي دي. زه د یو افغان په توګه د خپلې حقوقي نیمګړي پوهې په رڼا کې د طالبانو د حکومت په رسمیت نه پیژندلو قضیه د نړیوالو قوانینو په رڼا څیړم. ځکه د نړیوال امنیت او ثبات لپاره د افغانستان اهمیت، ارزښت او شتون خورا ډیر مهم دی. د افغانستان دولتونو او حکومتونو په تاریخ کې دا لومړی ځل دی، چې د نږدې شپږ میاشتي راهیسې د افغانستان حکومت د هیڅ دولت لخوا په رسمیت نه دی پیژندل شوي. له همدې رسمیت نه پیژندلو سره د لوی افغان ولس برخلیک او راتلونکی تړلي دی. دا په رسمیت یا په رسمیت نه پیژندني مسئله د میلیونو ماشومانو او بې وزلو افغانانو له برخلیک سره مستقیماً تړاو لري، کوم چې وسمهال د خوارزواکۍ له مرګوني ګواښونو سره لاس او ګریوان دي. په دې لیکنه کې د نړیوالو قوانینو له مخې د ډیفکټو حکومتونو رسمیت پیژندل څیړل کیږي. ټولو ته د طالبانو جګړییزې تاریخي تیروتنې، افغانستان د سترو نړیوالو زبرځواکونو بریدونو، ننګونو سره مخامخول، له کورنې جګړې څخه خلاصول، د واک جزابر ختمول او د سولې، امنیت او ثبات راوستلو کړنې مالومي دي. همدارنګه ښایي طالبان جګړییزه او مذهبي محدوده پوهنه ولري، خو د حکومتوالۍ سیاسي پوهنه، نړیوالو ټولمنلي قوانین او نړیوالو سره د پیچلو اړیکو ډیپلوماسي پوهنه د پاکستاني پوځي اشټلبشمنټ د ستراتیجیستانو لخوا په جوړ کړل شوي درسي کریکولم یا استعماري ډوکترینو کې کوم چې د دارلعلوم حقانیه په دیني مدرسو کې پلي کیږي نه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

زده کېږي. د طالبانو مشرانو سختدریځتوب او سرتمبتوب هم له همدې ځایه سرچینه اخلي. تر اوسه د طالبانو مشرتابه کړنې دا ثابته کړې، چې دوی په نړیوالو تولمنلي ډیپلوماتیکو نرخو، نورمونو، اصولو او په نړیوالو ډیپلوماتیکو اړیکو، د پیچلي سیاسي ډیپلوماسی په بنسټیزو حرکتونو باندې سم نه پوهیږي.

## د نړیوالو قوانینو په رڼا کې د طالبانو حکومت رسمیت پیژندني حقوقي قضیه:

د یوولسم سپتمبر د پیښې او له اوږدې خونړۍ جګړې ورسته په ۲۰۲۰ کال کې په دوحه کې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ یو تړون کوم چې د ډیرو کارپوهانو لخوا تر سختو نیوکو لاندې راغلي او د نړیوالو قوانینو خلاف لاسلیک شو. دغه تړون د اګست په میاشت کې د طالبانو د شدیدو پوځي تحرکاتو له کبله ګډوډ شو. په پای کې کابل د طالبانو په لاس سقوط شو. منتخب ولسمشرغني له هیواده بهر تللو ته مجبور کړل شو. وسمهال په کابل کې طالبان واکمنان دي. له دې سره په افغانستان د اساسي قانون کړکیچ ستونزه هم رامنځته شوې. طالبانو په خپله لومړني واکمني کې یو سیاسي اپوزسیون شمالي ټلواله درلوده. شمالي ټلوالې هم د حکومت دعوا درلودله، خو د طالبانو په دې اوسنی واکمني کې اپوزسیون شتون نه لري. کله چې په یوه هیواد کې یو حکومت وي، د نړیوالې ټولنې دولتونو ته بل هیڅ انتخاب نه پاتې کیږي، یا به دغه نوی حکومت په رسمیت پیژني یا نه پیژني. کله چې دوه حکومتونه شتون ولري، بیا دوی کولې شي، یو انتخاب وکړي یا د اپوزسیون د شتون په صورت کې له هغې ملاتړ کولې شي.
کله چې د اګست په پینځلسمه نیټه افغان ولسمشر اشرف غني له هیواده په ناځاپي توګه وتښتید. هغه په خپله فیسبوکپاڼه کې ولیکل: دوی (طالبان) بریالي شول. د طالبانو اسلامپال سختدریځه غورځنګ د افغانستان تقریباً ټوله خاوره تر خپل کنټرول لاندې راوستلي ده. طالبانو د افغانستان اسلامي جمهوریت نوم ,, د افغانستان اسلامي امارت,, ته اړولي دی.
په افغانستان کې د سیاسي واک اوښتون ورسته د اروپایي ټولنې د کمیسیون مشرې اغلی اورزلا فون ډیرلاین سمدستي په چټکی سره اعلان وکړ، اروپایي ټولنه په افغانستان کې د طالبانو واکمني د افغانستان مشروع حکومت نه ګڼي. د امریکا متحده ایالاتو او د جرمني فدرالي دولت د طالبانو د واکمنی د مشروعیت او پیژندلو شرایط د ترویزم پر وړاندې مبارزې پورې وتړل او بشري حقونو ته، د ښځو حقونو ته تر هر څه ډیر لوړ ارزښت ورکړل قائیل شول.
ملګرو ملتونو، نړیوالې کفري ټولنې او د اسلامي ټولنې هیوادونو د طالبانو د پرله پسې غوښتنو سره سره تر اوسه په متفقه توګه د طالبانو سرپرست حکومت په رسمیت نه پیژني.
تر همدې لیکنې پورې د نړۍ هیڅ کوم دولت په ښکاره او رسمي توګه د طالبانو سرپرست حکومت په رسمیت پیژندل نه دي اعلان کړي. خو په حقیقت کې عملاً ځینو حکومتونو په حقوقي اصطلاح کې (کانکولډنت) یا په هوا کې معلق ډول په خاموشه توګه په رسمیت پیژندلي او له طالبانو سره په اړیکه جوړولو کې بوخت دي. د بیلګې په توګه له کابل هوایي ډګر د وتلو چارې په تنظیمولو کې او له هغې ورسته ځینې حکومتونه په پټه او بربنډه توګه په ډېر احتیاط سره له طالبانو سره د یو ځای کار کولو په لټه کې پاتې شوي دي.
ډیرې وختونه د رسمیت پیژندلو مسئله هغمهال راپورته کیږي، کله چې په یوه هیواد کې په یوه وخت کې دوه یا ډیر سیال حکومتونه شتون ولري. دا دې پورې هم اړه لري، چې کوم یو یې بریالي کیږي او په دغه هیواد کې دولتي کنټرول او مسوولیت په غاړه اخلي. د یو داسي حالت رامنځ ته کیدو لاملونه کورنی جګړه کیداې شي، یوه کودتا کیداې شي او یا په ټاکنو کې د لاسوهنې د تورونو له کبله د جنجالي پایلې اعلانیدل کیداې شي. د افغانستان په قضیه کې سیاسي وضعیت روښانه دی. طالبانو خپل ځان او خپل شتون په ټول افغانستان کې ثابت کړې دی. دوی ټول افغانستان په اغېزمنه توګه کنټرولوي. ولسمشر غني د خپل ټول حکومت سره تېښتیدلي او هغه نور ځان ته د افغانستان مشروع ولسمشر په سترګه نه ګوري.

کله نا کله د ځینو کسان له خوا په قانوني توګه د طالبانو په رسمیت پیژندلو څخه انکار کوي. دا له دې سره توجیه کوي، چې په افغانستان کې د واک مسئله یا د واک پوښتنه په بشپړه توګه نه ده روښانه شوې. دوی یو دلیل دا وړاندې کوي، چې ولسمشر اشرف غني د اساسي قانون له مخې استعفا نه ده ورکړې. پر دې سربیره د ولسمشر غني لومړي مرستیال صالح هم د هغه د ځایناستي لپاره له خپل اساسي قانون حق څخه نه دی تیر شوی. خو غني او صالح دواړه له هیواده وتلي دي. عمدتاً دا په خپله په واقعي توګه د سیاسي واک پرېښودلو په مانا تعبیر او تفصیر یا تشریح کیداې شي.

## د نړیوالو قوانینو له مخې د دولتونو او حکومتونو په رسمیت پیژندل:

د دولت او حکومت په رسمیت پیژندل ممکن له یو بل سره ډېر نږدېوالي ولري، خو د دواړه یو شانته په رسمیت پیژندنه نه ده. د ډیپلوماتیکو اړیکو لپاره د یوه حکومت په رسمیت پیژندنه اړینه نه ده. د نړیوالو قوانینو له مخې د دولتونو په رسمیت پیژندنه د یو دولت لخوا رسماً د بنو سیاسي ډیپلوماتیکو اړیکو اظهار ول په نیت ترسره کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رااليږلو مخکې په ځیر و لولئ

په بله وینا د نړیوالو قوانینو له مخې د یوه دولت پیژندنه د یو بل دولت له خوا د یوې یو اړخیزې ارادې د څرګندولو او تمثیلو په ترڅ کې اعلانیږي. کله چې یو دولت غواړي بل دولت د نړیوالو قوانینو له مخې په رسمیت وپیژني، اساساً دا پریکړه د هر خپلواک دولت د خپلواکۍ ارادې او خپلواک اختیار له مخې ترسره کیږي. د نړیوال قوانینو له مخې د یوه دولت په رسمیت پیژندنه د دولت جوړوني د ځانګړتیاوې په درلودلو سره تر سره کیږي. نړیوال قانون یو دولت د دریګوني قاعدې یا دریو عناصرو تیوري له مخې تعریفوي. یو دولت دولتي قلمرو یا ځمکنې بشپړتیا ته، یو دولتي ولس ته او یو دولتي نظام یا دولتي حاکمیت ته اړتیا لري. د دې تعریف له مخې یو اغیزمن او خپلواک حکومت په خپلو کورنیو او بهرنیو چارو کې خپل دولتي حاکمیت بیانوي یا پلې کړي. خپلواک هیوادونه د خپل ملي حاکمیت لپاره مساوي حقونه لري. کله چې یو هیواد د یو خپلواک ملي حاکمیت خاوند وي، د بل خپلواک هیواد له خوا په رسمیت پیژندل کیږي. په رسمیت پیژندنه د دوو دولتونو ترمنځ د ډیپلوماتیکو اړیکو لومړني ګام دی. په رسمیت پیژندنه یوه سیاسي کړنه ده. هیڅ دولت مجبور نه دی، چې بل حکومت په رسمیت وپیژني، تر څو په رسمیت پیژندونکی هیواد کې د خپلو ملي ګټو ته اړتیا ووینې.

د حکومت رسمیت پیژندنه خبره هغمعال رامنځته کیږي، کله چې یو دولت د خپلو خلکو یوې ډلې ته واک وسپاري، څو د دولت د یو اورکان په توګه عمل وکړي او د نړیوالو قوانینو له مخې یې استازیتوب وکړي. د نړیوالو قوانینو له مخې د یو حکومت پیژندلو لپاره یوازېنۍ شرطونه د دولتي حاکمیت په چوکاټ کې د حکومتوالۍ اغیزمن اصول پلې کول دي او د خپل قلمرو په ډیره برخه باندې کنټرول درلودل دي او په خپل اداري سیسټم باندې تسلط درلودل دي. ډېرې هیوادونه یوازې دولتونه په رسمیت پیژني نه حکومتونه، د بیلګې په ډول د سویس هیواد اساساً د اغیزمنتوب اصولو له مخې پر حکومتونو قضاوت کوي. د سویس دولت د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسیدو راهیسې عملاً دولتونه په رسمیت پیژني. کله چې په یوه هیواد کې حکومت بدلون وموومي، سویس په بنسټیز ډول د نوی حکومت هر ډول په رسمیت پیژندنې څخه ډډه کوي او ردوي.

کله چې یو دولت شتون ولري، ډیرې دولتونه د نړیوالو قوانیو له مخې د حکومتونو رسمیت پیژندلو څخه ډډه کوي، لکه د افغانستان حکومت اوسنې حقوقي قضیه، په ۲۰۱۹ کال کې د وینزویلا هیواد هم حقوقي کړکیچنه پیچلې قضیه د چاوېز، ماډورو حکومت او د خوان ګوایډو لخوا د اعلان شوې موقت حکومت ترمنځ د اساسي قانون شخړه رامنځته شو. د وینزویلا حکومت مشروعیت قضیه د ملګرو ملتونو د امنیت په شورا کې د زبرځواکو هیوادونو استارو ترمنځ یوه ستونزمنه حقوق مسئله ګرځیدلې وه. په نړیوالو اړیکو کې د رسمیت پیژندل مسئله یوازې د یو نوی دولت د جوړیدو په صورت کې د نورو دولتونو لخوا بیان او اعلانیږي، لکه په پخوانی یوګوسلاویا کې د کوسوو نوی دولت رامنځته کیدل.

د یو حکومت په رسمیت پیژندلو سره د رسمیت پیژندونکی هیواد دولت غواړي د اعلامیې له لارې دا څرګنده کړي، چې په رسمیت پیژندل شوي حکومت استازي په بل دولت کې رسمي استازي ګڼل کیږي. د دولتي تیورۍ په بنسټ عموماً د اغیزمنتوب اصول په کې تعقیبویږي، په دې مانا یو حکومت هغه مهال په رسمیت پیژندل کیږي، کله چې د هیواد د ډیرو برخو اداره او کنترول په خپل لاس کې ولري.

کله چې یو هیواد د نړیوالو قوانینو له مخې د دولت جوړولو ټول اړین شرایط ځمکنۍ بشپړتیا، دولتي وګړي، حکومت او د ملي حاکمیت پوره کړي وي، بیا هم لږ تر لږ د یوه هیواد لخوا په رسمیت ونه پیژندل شي، هغه هیواد د نړیوالو قوانینو تابع نه شي ګرځیدلې.

د نړیوالو قوانینو له مخې د افغانستان دولت د رسمیت پیژندلو مسئله تر پوښتنې لاندې نه ده، د نړیوالو قوانینو پر بنسټ د افغانستان دولت خپل نړیوال اهمیت، ارزښت او رسمیت لري. تر پوښتنی لاندې د طالبانو ډیفکټو حکومت دی.

د حکومتونو رسمیت پیژندنه کې د ډیفکټو او ډیژو حکومتونو ترمنځ د اغیزمنتوب او مشروعیت توپیر اړین دی. د دواړو حکومتونو په ډولونو کې د مؤثریت او مشروعیت توازون ارزول کیږي. د ډیفکټو حکومت رسمیت پیژندل تر ډیره بریده سیاسي اړخ لري، کیداې شي د دې حقیقت منلو مانا ولري، چې یو اغیزمن حکومت شتون لري. په داسي حال کې چې په رسمیت پیژندونکی هیواد د هغه د دوام یا مشروعیت په اړه ډاډمن نه دی.

کله چې یو غورځنګ د یوه دولت ستره ځمکه تر خپل کنټرول لاندې راوستلي وي، د اغیزمنتوب اصول له مخې حکومت یې د ډیفکټو حکومت په نامه یادیږي، د دې تیوري له مخې د طالبانو سر پرست حکومت یو ډیفکټو حکومت دی. طالبان باید په دې وپوهیږي، چې د نړۍ حکومتي مشران د هغې حکومت له مشرانو سره په ډیپلوماتیک دریځ کې ګډ دریږي، کوم چې ټولمنلي نړیوال قوانین یې منلي وي.

طالبانو خپل حکومت د سر پرست حکومت په نامه اعلان کړي، د طالبانو سرپرست حکومت موده مالومه هم نه ده.

د یو سرپرست حکومت په رسمیت پیژندلو عملي شرطونه یا معیارونه په نړیوالو قوانینو کې سم روښانه نه دي لیکلي شوي.

## د طالبانو ډیفکټو حکومت د نړیوال مشروعیت ترلاسه کولو ناکامې هڅې:

طالبان د نږدې شپږو میاشتو راهیسې د ملي مشروعیت ترلاسه کولو په ځای د نړیوال رسمیت موندلو او د افغانستان سره د بشري مرستو تر لاسه کولو په لټه کې سرګردانه له یوه هیواده بل ته په لاره کې دي. طالبان اصلاً


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ملي مشروعیت په فکر کې نه دي، دوی د افغانستان کنګل شوي دولتي شتمنۍ او میلیاردونو ډالرو په فکر کې دي. کله چې طالبان ملي مشروعیت ترلاسه کړي، نړیوال مشروعیت په خپله پرته له عذر، زاري او هوايي ژمنو څخه ورته ډالۍ کیږي.
د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن د کانګرس د سنا په مجلس کې اعتراف وکړ، چې طالبان د افغانستان حکومت اصلي واکمنان دي او دا یو حقیقت دی.
طالبان ولي د خپل حکومت رسمیت پیژندلو لپاره پرنړیوال کچ خورا ډیرې هڅې او هلي ځلې کوي. طالبان غواړي د رسمیت پیژندلو له لارې د افغانستان کنګل شوي بهرنیو اسعارو او د میلیاردونو ډالر شتمنۍ ته لاسرسۍ مومي. طالبان غواړي تولې نړۍ ته خپل سفیران واستوي او د نور دولتونو سره د نړیوالو قوانینو له مخې د پراختیایي، پرمختیایي همکاریو تړونونه لاسلیک کړي.
په کابل کې د بهرنیو هیوادونو سفارتونو شتون یا پرانیستل، د طالبانو حکومت رسمیت پیژندلو په مانا نه دي. په کابل کې د څو بهرنیو هیوادونو سفارتونه فعال دي، خو د طالبانو سرپرست حکومت په رسمیت پیژندلو اعلان نه دی کړي.
اروپایي ټولنه تل په داسي حالاتو کې د خپل ګډ بهرني سیاست په چوکاټ کې ګډ دریځ غوره کوي، خو بیا هم د نړیوالو قوانینو پر بنسټ هر اروپایي هیواد کولي شي، د خپل هیواد د ملي ګټو په چوکاټ کې د ځان په اړه خپلواکه یا مستقله پریکړه وکړي. اروپایي ټولنې خپلې مرستې په افغانستان کې د بشري حقونو له راعایتولو او مراعتولو سره تړلي دي.
چین، روسیه، هند، ایران د افغانستان شمالي ګاونډي هیوادونه د خپل ډاډمن امنیت په اړه شرطونه لري. امریکا او اروپایي ټولنه د ترهګرو او د ترهګري سره د طالبانو پریکون ګرانټي غواړي. ترڅو افغانستان بیا د تروریزم په ځاله بدل نه شي او د بشري حقونو مسئله یې را وراندي کړي ده.
ټول نړیوال هیوادونه د طالبانو د مؤقتن حکومت د رسمیت نه پیژندني په وړاندې یوازې د یو ګډ سیاسي فشار راوړلو سیمبولیک سیاست تعقیبوي.

## د طالبانو حکومت ملي او نړیوال مشروعیت ته د پاکستان سخته ضربه:

طالبان یوازې یو ګټونکي پاڅونوال غورځنګ نه دی، بلکې دوی په لویډیځ هیوادونو کې د القاعدې ترهګرې ډلې سره د نږدې اړیکو له امله یو ترهګر سازمان په توګه پیژندل شوي دي. د طالبانو غورځنګ ځینې غړي پر نړیوال کچ د ترهګرو په توګه پیژندل شوي دي. همدارنګه طالبان د پاکستاني پوځیانو په اډو کې روزل او تمویل شوي دي.
طالبان تل د پاکستاني د پوځي اشتبلیشمنټ د لاس اله ګرځیدلي دي. د طالبانو حکومت په رسمیت نه پیژندلو کې، پر ملي او نړیوال کچ د مشروعیت ترلاسه کولو کې تر ټولو ستره ضربه د دوی نږدې ملاتړي هیواد پاکستان ورکړي ده. طالبان فکر کوي، چې هر څه له پاکستانه د دوی د واکمنۍ په لور ورځلیږي، هغه سره زر دي.
ټول نړیوال دولتونه په دې ښه پوهیږي، چې پاکستاني پوځیانو او استخباراتي مامورینو له پیله طالبان د خپلې نیابتي جګړې او ستراتیجکي ژورې پالیسیو لپاره د یوې ارزانې ملیشې په توګه کارول شوي دي. د پاکستان پوځي اشتبلیشمنټ ستراتیجستانو په دې ورستیو شلو کلونو کې د امریکایي او اروپایي ډیپلوماتیکو استازو ته په خبرو کې دا خبره څرګنده کړي، چې افغانستان د دوی د ستراتیجیکو موخو او پالیسو د نفوذ ساحه ده. دوی تل په کابل کې د یو پاکستان پلوه حکومت سهمیه یا برخه غوښتي ده. د دوی ستراتیجیکه موخه همدا وه، څو په کابل کې حکومت د دوی په خوښه، د پاکستاني استعماري ګټو لپاره یو غلام وفاداره حکومت رامنځته کړي. دا خبره هغمهال په ریښتیا بدله شوه، کله چې کابل د طالبانو لاسته ولوید او د واک تشه رامنځته شوه. د ټولو نړیوالو ډیپلوماتیکو اصول خلاف د پاکستان د اي ایس اي مشر د طالبانو حکومت د اعلانیدو څخه مخکې په کابل کې د سیرینا په هوټل کې راڅرګند شو. د پاکستان استخباراتي اداري مشر د طالبانو نوي کابینې په جوړولو کې رول لوبول. د طالبانو منځلاري مشران ګوښه کول، پرته له اجازې کابل ته د پنجابي پوځي اشتبلیشمنټ پټي الوتنې، پاکستاني سفیر لخوا د افغانستان محرم اسنادو ویستل، دغه دولتي محرم اسناد پاکستان استخباراتي اداری ته په لاس کې ورتلل، د افغانستان اقتصاد، د افغاني اسعارو یا کرانسي کنټرولول، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر په توګه پر نړیوال ستیج کې را څرګندیدل او لابیګري کول، د پاکستان صدراعظم د طالبانو د نوی حکومت څخه د نړیوالو اصولو خلاف ملاتړ کول او د پاکستان سفیر د ټولو منل شویو ډیپلوماتیکو نورمونو او اصولو خلاف د پاکستان بیرغ سره د کابل په مهمو ادارو کې راڅرګندیدل، د ټولو نړیوالو ډیپلوماتیکو نورمونو خلاف د پاکستان ملي امنیت سلاکار ته د کابل په هوايي ډګر کې یوازې د پاکستان سفیر او ځانګړي استازی د ښه راغلاست لپاره دریدل، د سیاسي ډیپلوماسۍ له مخې میلمه او کوربه نه مالومیدل او په افغانستان کې دې ته ورته نورې بیشرمه لاسوهنې او ناروا استعماري لاسوهنو او کړنو پایله دا شوه، چې ټول نړیوالو څارونکي او اکثریت افغانان د پاکستاني استعماري موخو له امله په شوک کې شول. خلکو ته دا ثابته شوه، چې د طالبانو حکومت په کورني، بهرني، اقتصادي، اداري او دفاعي برخه کې د پاکستان استعماري سیاست او پوځي ستراتیبجکو جنرالانو د ډوکترینو په ولکه کې لویدلي دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانستان په کورنۍ او بهرنۍ سیاست کې د پاکستان مستقیمه بیشرمه لاسوهنه د دې لامل وګرځېده، څو د طالبانو سرپرست حکومت د پاکستان یو لاسپوڅی حکومت په توګه وپېژندل شي.
د پاکستان بیشرمو لاسوهنو په وړاندې په ګڼو افغانانو کې منفي غبرګونونه راوپارېدل او له دې امله هم د طالبانو حکومت خپل ملي مشروعیت نه دی ترلاسه کړی.

## د طالبانو حکومت په رسمیت نه پېژندنه کې د نړیوال سیمبولیک سیاست رول:

د طالبانو په رسمیت نه پېژندل له دې پوښتنې سره هم تړاو لري، چې ایا له طالبانو سره باید د هغو کسانو په څېر چلند وشي، چې په نړیوال ډیپلوماتیک سټېج یا درېځ کې د افغانستان استازیتوب وکړي. د یوې قاعدې په توګه په نړیوالو ډیپلوماتیکو اړیکو کې یو نوی حکومت هیڅ ډول په رسمیت پېژندلو ته اړتیا نه لري. وضعیت یوازې هغمهال مبهم کیږي، کله چې څو حکومتونه په یوه سیمه کې د دولتي واک لپاره مبارزه کوي. په داسي یو حالت کې بیا په رسمیت پېژندل اړین کیږي. که له بلې خوا یوازې یو حکومت شتون ولري، هغه په نړیوالو اړیکو کې برخه اخلي. د بېلګې په ډول حتی که هغه په سوریه کې د بشرالاسد حکومت په څېر یو غیر انساني ظالم رژیم هم وي.
په افغانستان کې د واک په سر مبارزه تر ډېره بریده د طالبانو په ګټه تمامه شوې ښکاري. یعنی سیاسي واک د طالبانو په لاس کې دی. د کنګل شویو شتمنۍ د نه ترلاسه کولو له امله د طالبانو حکومت ته رسمیت نه ورکولو سزا د نړیوالو قوانینو یا د بین الملل حقوقو سره سمون نه لري. خو په دې برخه کې یو بل سیاسي منطق په مخکې پروت دی. د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوټریش د غني حکومت د نسکوریدو څخه څو ورځې ورسته دا خبره په داګه او په ښکاره مطرح کړه او وویل، ښایي یوازینی لار همدا وي، څو پر طالبانو فشار راوړل شي، چې یو پراخ بنسټه حکومت جوړ کړي او په ځانګړي توګه د ښځو حقونو ته درناوي وکړي.
طالبانو له خپلې بریا ورسته پر نړیوال کچ د ډیپلوماتیک رسمیت ترلاسه کولو لپاره پراخې هڅې پیل کړي دي. دوی هیله مندې لري، چې دا هڅې به دوی ته مشروعیت ورکړي، څو په بهر کې د افغانستان کنګل شویو شتمنیو ته لاسرسی ومومي.
په ریښتیاینې مانا سره ښایي دا ملي شتمنې تر هغه کنګل شوي پاتې شي. تر څو د طالبانو واکمنې د افغانستان حکومت په توګه پر ملي او بین المللي کچ په رسمیت ونه پېژندل شي. سربېره پردې د طالبانو استازي په بهر کې هیڅ ډول نړیوال امتیازات او مصوونیت یا معافیت نه لري. کیداې شي دوی په بهر کې نړیوالې جنایي محاکمو ته ودرول شي.

## د نړیوالو قوانینو له مخې د افغانستان کنګل شویو شتمنې حقوقي ستونزه:

بین المللي قوانین په دې هڅه کې دي، تر هغې بریده چې شوني وي، د ماتیدونکې، ناتوانه او فلجو دولتونو رامنځته کیدو څخه ډډه وکړي یا د واک تشې مخه نیسي. د دولتونو ترمنځ اړیکې د ثبات ساتلو په موخې او ګټه ساتل کیږي.
که په افغانستان کې د طالبانو حکومت په رسمیت نه پیژندلو اصلی موخه د هغو ژمنه شویو بشري مرستو او د افغانستان مرکزي بانک د کنګل شویو پیسو د ترلاسه کولو مخه نیول وي، بیا د نړیوالو قوانینو په بنسټ د رسمیت پیژندلو څخه د ناوړې ګټې اخیستنې یا د سؤ استفادې حقوقي پوښتنه رامنځته کیږي. د نړیوالو قوانینو له مخې داسي یو حالت د منلو وړ نه دی. د افغانستان وضعیت ستونزمن دی، په بله وینا د افغانستان حکومت د رسمیت پیژندنې مسئله یوه ستونزمنه حقوقي او سیاسي مسئله ده. ځکه چې د طالبانو په رسمیت پیژندلو سره په حقیقت کې د بشري حقونو نقض کولو ته مشروعیت ورکولو په مانا تعبیریږي. دا په خپله د بشري حقونو په برخه کې یوه خورا ستونزمنه پرېکړه ګڼل کیږي. دا پرېکړه د ځینو لخوا په دې مانا هم تعبیر کیداې شي، چې پر نړیوال کچ د طالبانو سختدریځې سیاسي حیثیت، اعتبار ته ارزښت ورکول کیږي. په حقیقت کې د طالبانو بشري ضد کړنو ته مشروعیت ورکولو په مانا تعبیر کیداې شي دا شوني ده او د دې شونتیا هم شته، چې د طالبانو سختدریځې او سرتمبتوب لا نوره پیاوړې شي.
وسمهال د نیویارک ښار یوې قاضې د امریکا عدلیې وزارت ته د افغانستان د کنګل شویو پیسو په اړه د روان کال د فبرورۍ تر یوولسمې نېټې پورې مهلت ورکړل شوي دی. څو د کنګل شویو پیسو برخلیک مالوم کړي. دا پیسې په نیویارک د امریکا د فدرالې ذخیرې په بانک کې ساتل کیږي.
د افغانستان ملي شتمنې کنګل کیدل د نړیوالو قوانینو پر بنسټ نه دي کنګل شوي، بلکې د امریکا د ملي قوانینو له مخې کوم چې د اوباما له وختنه نافذ شوي دي. طالبان نه یوازې په امریکا کې بلکې په روسیه کې هم د روسیې ملي قوانینو له مخې هم د ترهګرې ډلې په نامه پیژندل کیږي او د فعالیت اجازه نه لري. پوتین د طالبانو د رسمیت پیژندنې په اړه ویلي دي، چې دا یوه تشه پوښتنه نه ده. د روسانو له اړه طالبانو په رسمیت پیژندل د شک وړه خبره نه ده. د افغانستان او مهانمار هیوادونو مالي شتمنې د نړیوالو قوانینو پر بنسټ نه بلکې د امریکایې قوانینو لخوا کنګل شوي دي.
په نهایت کې په نړیوالو حقوقي او سیاسي بحثونو کې به د طالبانو حکومت په رسمیت نه پیژندل د ویسټل شویو امریکایانو او د ناټو غړو هیوادونو نړیوال حیثت نوره هم راټیټ کړي. امریکایانو او د ناټو غړو هیوادونو مشران


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

غوارې، له دې لارې د افغانستان په کورني سیاست کې افغانانو ته دا پیغام ورکړي، چې پر طالبانو باندې د بندیزونو له لارې فشار ډیر لوړ ساتل کیږي. سربیره پر دې د طالبانو حکومت چټک رسمیت پیژندل به دښمن لپاره د یوې فعالي مرستې وړاندې کولو په څیر وانګیرل شي. د ملګرو ملتونو سرمنشي ویلي، دا یوازینۍ لار ده، تر څو په افغاني ټولنه کې د ښځو په وړاندې د سیستماتیکو ګواښونو پر وړاندې مقابله وشي.
په هر صورت د یو واکمن حکومت دایمي په رسمیت نه پیژندل به د نړیوالو ټولمنلي قوانینو له مخې یوه ستونزمنه پرېکړه وي او دا پرېکړه له سیاسي او حقوقي پلوه د انګیرلو، منلو او تصور وړ نه ده.
د یو هیواد حکومتي مشران انزوا ته بیول او پر هغوي باندې اقتصادي سیاسي بندیزونه لګول، نه یوازې پر دوی فشار راوړل کیږي، بلکې هغوی لا نوره سختدریځتوب او افراطیت ته هڅول کیږي، حتی د نورو ترهګرو ډلو سره یو د ځای کیدو شتونتیاوې او اغیزې رامنځته کوي.
په ۲۰۲۱ کال کې سپتمبر په ۲۱ مه نیټه د ملګرو ملتونو ۶۷ ناسته کې طالبانو غوښتنه وکړه، چې د غني حکومت کرسي دې دوی ته ورکړل شي، د طالبانو غوښتنه له دې امله رد شوه، چې ګواکې دوی ناوخته خپل غوښتنلیک وړاندې کړي دی. د رد ځواب ورکولو مانا دا شوه، چې د ملګرو ملتونو په عمومي نړیواله ډیپلوماتیکه ناسته کې د ۱۹۳ هیوادونو په غونډه کې د افغانستان په استازیتوب هیڅا خبرې ونه کړې. همدارنګه د مېانمار هیواد کودتاچي جنرالانو استازو ته د وینا اجازه ورنه کړل شوه.
په نړیوالو قوانینو کې د ډیپلوماتیکو اړیکو پرېکیدلو یا انکار کولو او د یو حکومت په رسمیت پیژندلو پولې ترمنځه سم توپیر نه لیدل کیږي.
د یو حکومت رامنځته کیدل د هر دولت د کورنیو چارو پورې اړه لري، دا پوښتنه راولاړیږي، چې څنګه دغې نوی حکومت واک ترلاسه کړي دی او څنګه دغه حکومت له خپلو وګړو سره چلند کوي. د حکومت کړنې د بشري حقونو په نقضولو کې اندازه کیږي، د مېانمار کودتایي جنرالانو او طالبانو حکومتي واک په نامشروع ډول د زور له لارې ترلاسه کړي دی.
د دوحې د سولې په هوکړه لیک کې راغلي دي، چې طالبان به یو نوی حکومت جوړوي. د دوحې پریکړه لیک کې دا هم راغلي دي، د افغانستان اسلامي امارت چې امریکا متحده ایالات یې د دولت په توګه په رسمیت نه پیژني او د طالبانو به نوم یې پیژني د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړ جاړي ورسته نوی اسلامي حکومت جوړ کړي.

## پایله:

د ۱۹۹۷ کال په څیر بیا طالبان غواړي په رسمیت وپیژندل شي، داسي ښکاري چې دا ستونزه همداسې پاتې ده لکه څنګه چې وه. تراوسه د طالبانو حکومت د نړۍ هیڅ کوم دولت لخوا هیڅ ډول د بیلوماتیک رسمیت پیژندنه نه ده تر لاسه کړي. تر اوسه له طالبانو سره د نړی ډیپلوماتانو خبرې اترې د ډیپلوماتیک رسمیت پیژندنې به مانا نه دي ترسره شوي. طالبان باید دغه په رسمیت پیژندنه د خپلو کړنو او ژمنو له لارې کمیایي کړي. لویدیځوال حکومتونه په دې پوهیږي، چې طالبانو د دوی مرستو ته ډیره اړتیا لري. خو لویدیځوال د طالبانو ټولې غوښتنې نه شي منلې.
د نړیوالي ټولنې لخوا یوه کړندۍ ډیپلوماتیکه په رسمیت پیژندنه به یو غلط سیګنال نړیوالي ټولنې او افغانانو ته استولې وای. د نړیوالو قوانینو کارپوهان د طالبانو د حکومت په رسمیت نه پیژندلو په اړه خپلو حکومتونو ته خبرداری ورکړي، چې طالبان باید د رسمیت پیژندلو شرایط پوره کړي او د خپلو ښو کړنو له لارې نړیوال رسمیت ترلاسه کولې شي. نړیواله ټولنه وسمهال د طالبانو سره په خبرو اترو کې برلاسی برېښي، د کنګل شویو شتمنۍ له کبله په خبرو اترو او جوړ جاړي کې زیات واک او اغیز لري.
طالبانو تاز د اوسلو په غونډه کې د خپل حکومت په رسمیت پیژندلو کې یو لوی ګام اخیستلي دی. داسي ښکاري د طالبانو د حکومت پراګماتیک یا عملي په رسمیت پیژندنه مسئله د تصور وړ ګرځیدلي وي. د طالبانو حکومت به ډیر زر یا ورسته په رسمیت وپیژندل شي، که چیرې طالبان خپلې ژمنې زر تر زره عملي کړي. خو پوښتنه دا ده، که طالبانو ته اینبودل شوې شرطونه پوره نه کړي، بیا هم نړیواله ټولنه طالبان په رسمیت پیژني.؟
طالبان دې وپوهیږي، چې جګړه یې ګټلې، خو د افغان ولس، د نړیوال مشروعیت او د نړیوالي ټولنې له مرستو پرته په یوازیتوب سره د خپل حکومت ثبات او پاښت دوام نه شي ساتلې.
لویدیځوالو له افغانستان سره خپلې بشري مرستې له بشري حقونو سره تړلې دی. په اوسنی حالاتو کې پر طالبانو باندې د فشار راوستلو یوازینې وسیله همدا ده، خو طالبان یو ټاکلې لوري ته وهڅول شي، که بیا هم دا هڅې او بندیرونه ناکام شي. د طالبانو حکومت پیژندنه به د نړیوالو دولتي قوانینو لخوا د پرګماتیکو لاملونو له امله هم د تصور وړ وګرځي. خو د طالبانو حکومت به لکه د شمالي کوریا او د سوریې حکومتونو په څیر د بشري حقونو سرسخت دښمنان او ناقضین په توګه وپیژندل شي. کیدای شي بیا هم له دوی سره پر نړیوال کچ زبرځواکونه او ګاونډي هیوادونه د خبرو اترو په میز کې کیني او د یو سیال په توګه منل شي. د طالبانو پر حکومت به نور بندیزونه ولګول شي.
سمدستي هر دولت کولي شي، چې د طالبانو حکومت په رسمیت وپیژني، هر دولت کولي شي د خپلو ملي ګټو په چوکاټ کې او په خپل سیاسي اختیار کې د رسمیت پیژندلو پرېکړه وکړي. حتی پاکستان د نړیوالي ویرې او د خپلو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

شومو ګټو له کبله دا پرېکړه نه کوي. طالبان باید د بشري حقونو د بندېزونو او د پاکستان مستقیمو لاسوهنو په اړه پر خپلو پالیسو باندې تجدید نظر وکړي. خپل ملي مشروعیت دې د افغانانو د عنغنوي لویې جرګې د رابللو له لارې تر لاسه کړي.

د طالبانو سره د خبرو اتر او د دوی نویو ژمنو ورسته پر نړیوال کچ په زیاتیدونکې ډول ورځ تر بلې د طالبانو حکومت رسمیت پیژندل پیاوړي کیږي. طالبان د خپلو ناسمو پالیسو له امله د خپل حکومت په رسمیت نه پیژندلو سربیره افغانستان په حقیقت کې پر نړیوال کچ د خپلو منل شویو نړیوالو حقونو عملي کولو له فرصت څخه هم بې برخې کړي. له شپږو میاشتو راهیسې افغان واکمن حکومت د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري. که طالبان د خپل ډیفکټو حکومت داسي درک کوي، چې دوی د خپل شتون لپاره د نورو دولتونو لخوا پیژندلو ته اړتیا نه لري. دا به د طالبانو یوه بله ستره تاریخي تیروتنه وي. پرته شکه په ننني نړیوال کلي کې د حکومتونو په رسمیت پیژندنه کې ملي مشروعیت څښته ډیره مطرحه کیږي.

د بشري حقونو د منلو په اړه طالبان هم سره ویشلي شوي دي، مطمئناً د طالبانو په منځ کې داسې مخکښ مشران شته، چې دوی د بشري حقونو پلوي دي، خو ځینې په کابل کې د ناپوهۍ له امله مخالفت کوي. طالبان د غیر دولتي اتوریتې یا لوبغاړی په توګه کولي شي ځان په افغانستان کې د یو اغېزمن حکومت په توګه ښکاره کړي، دوی باید زر تر زره د افغانستان شاهي دولت د پخواني پاچا د دورې اساسي قانون د خپلې مؤقتي دورې لپاره نافذ کړي. د افغانستان د حکومتونو د تېر تاریخ ته په کتو سره د لویې جرګې د رابللو له لارې خپل حکومت ته ملي مشرویت ترلاسه کړي. موقت حکومت کولي شي، مخکې تر دې چې په امریکا کې د سپټمبر یوولسمې نېټې د قربانیانو یو شمیر کورنۍ دغه کنګل شوي پیسې ترلاسه کړي، د نړیوالو قوانینو له مخې په نړیواله محکمه کې د افغانستان ملي شتمنۍ په اړه خپل غوښتنلیک وړاندې کړي او د افغانستان ملي شتمنې د نړیوالو قوانینو مطابق د امریکایي بانکو څخه ترلاسه کولي شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ